مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

کبربری ۲۰۲۴/۱۰/۱۵

# غوښتنه

خدایه دې سوي زړه ته اور راکه

له شوره ډک سرته مي شور راکه

په هغه ښار کي چي اسره اوسېږي

ما ته په هغه ښار کي کورراکه

شان و شوکت د ظلم بل ته ورکه

ما ته د حق د وینا زور راکه

دا د سکون ژوندون مي نه دی په کار

راکه د ژوند تول شورماشور راکه

خلک به وایي خدایه درد لري که

زه درته وایم چي لا نور راکه

یه ستر د میني اوښکلا خالقه

د دوارو شوق یو په ځلور راکه

که راکوې شوراوجنون راکوه

که دا دي نه وي په وس ګور راکه

وخته ، بری د بد مستیو راکه

بیا پر ما وخانده پیغور راکه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ